

دعامې روغتیا وزارت

لومړی پړاو - اوومه ګڼه

۱۴۴۷-۰۴-۰۱۶

# روغتیا اوونیزه!

## د عامې روغتیا وزارت

(پرلیـــکه خپـرونه)

- د ایران له سفیر سره په یو شمېر مسایلو د عامې روغتیا وزیر ناسته!
- د عامې روغتیا وزیر په مشرۍ د رهبرۍ غونډې ترسره کېدل!
- کندهار او هلمند ولایتونو ته د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو د مرستیال سفر!
- د کوچنیانو او تنکیو ځوانانو د رواني روغتیا خدمتونو په موخه د سروې موندنو د خپراوي ورکشاپ ترسره کېدل!
- د نشه يي توکو څخه د مخنیوي په موخه د عامه پوهاوي غونډه ترسره کېدل!



## د عامې روغتيا وزارت د رهبرئ بورډ غونډه تر سره شوه.

دا غونډه چې د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په مشرئ د وزارت د ټولو مرستيالانو او مرکزي رئيسانو په شتون کې تر سره شوه، اړوندو چارو او مسؤليتونو ته د لا ښې پاملرنې، مسؤوليت ته پر وخت حاضرېدو، د عقودو له نوي قانون سره سم تدارکاتي پروسو کې د شفافيت، ښه والي او د چارو چټکتيا، په روغتونونو او روغتيايي مرکزونو کې د اړتيا وړ درملو او تجهيزاتو د شتون او پيرېدلو، د درملو برخه کې د داخلي توليداتو د پياوړتيا او لومړيتوب ورکولو او د ادارو تر منځ د لا زياتې همغږئ او د صحت طفل روغتون قلبي څانګې ته د لا زياتې پاملرنې اړوند بحث او خبرې تر سره شوې. د عامې روغتيا وزير، په پورته ذکر شويو موضوعاتو ټينګار وکړ او تخنيکي کمېټې يې وټاکلې؛ تر څو په دې اړه جدي او عملي اقدامات تر سره کړي. دغه راز، د عامې روغتيا وزارت مرستيالانو او مرکزي رئيسانو د چارو د ښه ترسراوي په موخه خپل نظرونه او وړانديزونه شريک کړل او ژمنه يې وکړه، چې د ذکر شويو موضوعاتو په اړه به لازم اقدامات تر سره کړي.

## Leadership Board Meeting Held at Ministry of Public Health.

The meeting, chaired by Mawlawi Noor Jalal Jalali, the Minister of Public Health, and attended by all deputy ministers and central directors, centered on strengthening accountability, punctuality, and transparency within the ministry. Discussions prioritized accelerating procurement processes in line with the new contract law to ensure efficiency. Key issues included securing timely availability of essential medicines and medical equipment for hospitals and health centers, advancing domestic pharmaceutical production, enhancing inter-department coordination, and focusing on improvements in the cardiac department at the Indira Gandhi Institute of Child Health. His Excellency Jalali underscored these priorities and established a technical committee tasked with implementing effective, practical solutions. Deputy ministers and directors contributed recommendations to improve management practices and committed to taking decisive action on the identified challenges.

## د فارياب، فراه، دايکندي، غزني او ننگرهار ولايتونو د عامې روغتيا مسؤلينو په دغه ولايتونو کې له يو شمېر توليدي فابريکو، درملتونونو، د درملو عمده پلورنځيو، روغتيايي مرکزونو، کتنځايونو لابراتوارونو او حمامونو څخه نظارت تر سره کړ.



د دې نظارت پايله کې د دايکندي ولايت په مرکز نيلي ښار کې ۵۰ قلمه له نېټې تېر درمل او فراه ولايت کې ۵۰ کېلو گرامه له نېټې تېر درمل راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي گدامونو ته ولېږدول شول. همداراز، ننگرهار ولايت کې يو لابراتوار له نېټې تېرو موادو د کارونې او غير مسلکي کسانو د شتون له امله وتړل شو. دغه راز، اړوندو مسؤلينو ته د روغتيايي قوانينو د تطبيق، حفظ الصحې مراعتولو، د غوره او با کيفيته روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو او د شفرې نسخو څخه د مخنيوي په موخه لازمې سپارښتنې تر سره شوې.

## Inspection Conducted at Several Manufacturing Factories, Pharmacies, Wholesale Drug Stores, Health Centers, Clinics, Laboratories, and Hair Salons in Faryab, Farah, Daikundi, Ghazni, and Nangarhar Provinces.

As a result of this monitoring, 50 items of expired medicines were collected in Nili city, the capital of Daikundi province, and 50 kilograms of expired medicines were collected in Farah province. These were transferred to central warehouses for destruction. Additionally, a laboratory in Nangarhar province was closed due to the use of expired materials and the employment of unqualified personnel. Furthermore, necessary recommendations were provided to the relevant officials to enforce health laws, ensure hygiene, deliver quality health services, and prevent counterfeiting.



## د عامې روغتيا وزارت د چاپيريال روغتيا رياست مسؤلينو له لوري د کابل ښار ۱۰مه ناحيه کې له يو شمېر رستورانتونو څخه نظارت ترسره شو.

په دغه نظارت کې د رستورانتونو مسؤلينو او کارکوونکو ته د روغتيايي کارتونو اخيستلو په موخه لازمې سپارښتنې وشوې او هم ورته گڼې روغتيايي لارښوونې او معلومات ورکړل شول. دغه راز، د ياد نظارت په ترڅ کې د رستورانتونو مسؤلينو او کارکوونکو ته د حفظ الصحې لارښوونو درې ورځنۍ روزنيز ټرېننگ ورکړل شو او ورته معتبرې تصديق پاڼې ووېشل شوې.

## Officials from the Environmental Health Directorate of the Ministry of Public Health conducted inspections of several restaurants in Kabul's 10th district.

During the inspection, restaurant officials and staff were advised to obtain health certificates and were provided with various health guidelines and information.

Furthermore, they participated in a three-day training on hygiene standards and were awarded valid certificates upon completion.




## Monitoring of Private Health Facilities Continues Nationwide.

The Ministry of Public Health has launched an oversight campaign led by Dr. Faqir Mohammad Ziyar, Director General of the Medical Council. A designated committee is inspecting private health centers to verify the presence and credentials of local and foreign medical staff, including doctors and nurses. The review covers academic qualifications, licenses, and residency documents, with legal action to follow any violations. Recent inspections were conducted at Kabul Istanbul, Khedmat, Lajward Ahmadzai, Dunya, and Subhan Ebadi hospitals. Authorities issued directives to improve the quality and standards of services to ensure better healthcare delivery.

The Ministry confirmed that the inspection campaign will soon expand to other provinces. Violators will face legal consequences, as the government works to align private sector operations with national health policies and safeguard public well-being.

## د هېواد له خصوصي روغتيايي مرکزونو څخه د نظارت پيل شوې لړۍ دوام لري.

د نظارت ياده لړۍ د عامې روغتيا وزارت د طبي شورا لوی رئيس، ډاکټر فقير محمد زيار په مشرۍ د يوې باصلاحيته کمېټې له لوري پيل شوې ده، چې موخه يې د هېواد په خصوصي روغتيايي مرکزونو کې د بهرنيو او داخلي ډاکټرانو، نرسانو او نورو روغتيايي کارکوونکو شتون، د فعاليت تنظيم، تحصيلي اسنادو، جوازونو او د اقامت سندونو څېړل دي، چې د سرغړونو په صورت کې به قانوني اقدامات تر سره کېږي. د نظارتونو ياده لړۍ چې څه موده وړاندې پيل شوې ده، پر دوام يې له کابل استانبول، خدمت، لاجورد احمدزي، دنيا او سبحان عبادي روغتونونو څخه نظارت ترسره شو او اړوندو مسؤلينو ته د باکيفيته تخصصي او معياري خدماتو وړاندې کولو په موخه لازمي سپارښتنې وشوې؛ ترڅو د هېواد په کچه د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړ او ناروغانو ته لازم روغتيايي خدمات وړاندې شي. د يادونې وړ ده، چې دغه نظارتي بهير به ډېر ژر د هېواد په نورو ولايتونو کې هم د روغتيايي قوانيو د تطبيق په موخه عملي شي او د مسؤلينو له لوري به له سرغړونکو سره قانوني چلند ترسره کېږي؛ څو د خصوصي روغتيايي مرکزونو فعاليتونه د عامې روغتيا وزارت له پاليسۍ سره سم ترسره او د خلکو روغتيا خوندي شي.



## د فراه د عامې روغتیا ریاست اړوند د روږدو درملنې ۸۰ بستریز روغتون کې ۴۶ تنه روږدي ناروغان له بشپړې درملنې وروسته خپلو کورنیو ته وسپارل شول.

د فراه د عامې روغتیا رئیس، مولوي شیخ میر صدام وویل: دغه ۴۶ تنه روږدي د ۴۵ ورځنۍ درملنې وروسته د روږدو درملنې ځانګړي ۸۰ بستریز روغتون څخه رخصت او خپلو کورونو ته استول شوي دي.  نوموړي زیاته کړه، چې د دغو کسانو د بیا روږدیتوب څخه د مخنیوي او د کارموندنې په موخه به ۴۰ تنو ته د درې میاشتنیو مسلکي روزنیزو پروګرامونو له لارې د نلدوانۍ، برېښنا، د لمرېزې برېښنا سیسټمونو نصبولو او د موټر سایکل ترمیم برخو کې زده کړې ورکړل شي، چې له فراغت وروسته به ورته د کار وسایل هم ووېشل شي.  همدارنګه، د فراه د روږدو درملنې ۸۰ بستریز روغتون مسؤل، استاد درویزه رسا وویل: د هغو کسانو سربېره چې په دغه روغتون کې یې درملنه شوې، ۸۰ کسان اوس مهال په روغتون کې، ۲۰ تنه نور په خپلو کورونو کې تر درملنې لاندې دي او ۷۰۰ تنه هغه چې له دې روغتون څخه مخکې رخصت شوي، د دوو پنځه کسیزو ټیمونو له لوري د یو کال لپاره په دوامداره توګه څارل کېږي.  د یادونې وړه ده، چې له دغه روغتون څخه رخصت شوي کسان به د یو کال لپاره د دوو پنځه کسیزو ټیمونو تر څارنې او نظارت لاندې وي.

## Forty-Six Addicts Recover and Return Home after Completing Treatment at the 80-bed Rehabilitation Hospital Affiliated with the Farah Provincial Public Health Directorate.

Farah Public Health Director, Mawlawi Sheikh Mir Saddam, stated that these 46 individuals were discharged from the hospital and sent home after completing 45 days of treatment.  He added that, to prevent relapse and help them find employment, 40 of them will receive vocational training in plumbing, electrical work, solar power system installation, and motorcycle repair. After completing the three-month training program, they will also be provided with work tools.  Professor Darweza Rasa, head of the 80-bed Rehabilitation Hospital, also said that, in addition to those who have recovered, 80 patients are currently admitted, 20 are receiving treatment at home, and 700 individuals who were previously discharged are being continuously monitored for one year by two five-member teams.  Notably, all individuals discharged from this hospital will remain under the supervision and monitoring of these two five-member teams for a period of one year.

## د عامې روغتیا وزارت د رهبرۍ په وړاندیز او د ریاست الوزراء عالي مقام د منظورۍ په اساس د روغتیا وزارت اړوند لاندې ټاکنې وشوې:

د غزني ولایت د عامې روغتیا مخکینی رئیس ډاکټر محمد زرک ځیرک د لوګر د عامې روغتیا د رئیس په توګه، د لوګر ولایت د عامې روغتیا مخکینی رئیس حافظ سعید الرحمن قادري د میدان وردګ ولایت د عامې روغتیا رئیس په توګه او میدان وردګ ولایت د عامې روغتیا مخکینی رئیس ډاکټر رسول خان نظري د غزني ولایت د عامې روغتیا رئیس په توګه وټاکل شول. په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس، شیخ محمد طاهر حلیم او یو شمېر نورو مسؤلینو شتون درلود. د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس تغیر او تبدیل د اسلامي نظام اصل وباله او زیاته یې کړه، د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزارت ژمن دی چې کار اهل کار ته وسپاري، په چارو کې شفافیت راولي او د چارو د لا ښه تر سراوي په موخه ټاکنې تر سره کړي.



## بر اساس پیشنهاد رهبری وزارت صحت‌عامه و منظوری مقام عالی ریاست‌الوزراء، تعیینات ذیل در چوکات این وزارت صورت گرفت:

داکتر محمد زرک ځیرک، رئیس پیشین صحت‌عامه ولایت غزنی به حیث رئیس صحت‌عامه ولایت لوگر، حافظ سعیدالرحمن قادری، رئیس پیشین صحت‌عامه ولایت لوگر به حیث رئیس صحت‌عامه ولایت میدان‌وردگ و داکتر رسول‌خان نظری، رئیس پیشین صحت‌عامه ولایت میدان وردگ به حیث رئیس صحت‌عامه ولایت غزنی مقرر گردیدند. در مراسمی که به این مناسبت برگزار شده بود، شیخ محمد طاهر حلیم، رئیس عمومی دفتر مقام وزارت صحت‌عامه و یک تعداد از مسوولان دیگر اشتراک داشتند. رئیس عمومی دفتر مقام وزارت صحت‌عامه در این مراسم ،گفت: « که تغییر و تبدیل از اصول نظام اسلامی است و افزود که وزارت صحت‌عامه امارت اسلامی متعهد است تا کار را به اهل آن بسپارد شفافیت را در امور تأمین کند و برای بهبود امور، تعیینات لازم را انجام دهد.

## د پنجشیر ولایت په مرکزي روغتون کې د پنځو میلیونو افغانیو په ارزښت د عاجل څانګې پرانیسته ترسره او په عصري تجهیزاتو سمبال ډیجیټل ایکسری خدمتونه فعال شول.



د پنجشیر والي حافظ محمد آغا حکیم وویل: «دا لومړی ځل دی چې پنجشیر ولایت په یو معیاري روغتیایي مرکز سمبالیږي او زیاته یې کړه، تر دې وړاندې ډېری ناروغان کابل او ګاونډیو ولایتونو ته تلل، خو د دغه مرکز په جوړېدو سره به د ناروغانو انتقال نورو ولایتونو ته کم شي.» همدارنګه، د پنجشیر د عامې روغتیا ریاست مسؤلینو وویل، چې په دغه مرکز کې موجود تجهیزات له نړیوالو معیارونو سره سم دي او ناروغانو ته به په کې روغتیایي خدمتونه وړیا وړاندې کېږي.

## A five-million-Afghani emergency department has been inaugurated at Panjshir Province's Central Hospital, and digital X-ray services featuring modern equipment were put into operation.

Panjshir Governor Hafiz Mohammad Agha Hakim stated, "This is the first time Panjshir Province has been equipped with a standard health center. Previously, most patients had to travel to Kabul or neighboring provinces, but with the establishment of this center, the necessity of referring patients to other provinces will be significantly minimized." Additionally, officials from the Panjshir Public Health Directorate stated that the center's equipment meets international standards and guaranteeing that patients will have access to medical services free of any financial burden.

## یک برنامه آموزشی مدیریت سیستم کنترول کیفی لابراتوار، برای کارمندان تخنیکی لابرتوارهای حوزوی دایر گردید.



آمریت لابراتوارهای مرکزی وزارت صحت‌عامه، یک برنامه آموزشی مدیریت سیستم کنترول کیفی لابراتوار را، برای لابراتوارهای شش گانه حوزوی کشورکه شامل (هرات، بلخ، ننگرهار، قندهار، قندز و پکتیا) می شوند دایر نمود. این برنامه به مدت پنج روز، در چوکات پروژه گلوبل فند، در تالار آمریت لابراتوارهای مرکزی وزارت صحت‌عامه، با هماهنگی ریاست روابط بین‌الملل (واحد تقویت سیستم صحی و جذب کمک ها) دایر گردید. در این برنامه، داکترنجیب ظاهر، به نماینده گی از آمریت لابراتوارهای مرکزی وزارت صحت‌عامه، در مورد اهمیت تشخیص و تداوی امراض و نقش این ظرفیت‌ها به شمول مدیریت سیستم کنترول کیفی لابراتوار سخنرانی تخنیکی و همه جانبه نمود. هدف اساسی این نوع برنامه ها، ارتقاء ظرفیت مسلکی لابراتوارهای حوزوی کشور، آشنایی کارمندان با تکنالوژی‌های جدید و کاهش اشتباهات در اجرای معاینات قبل از اخذ نمونه و حین پروسس و ارایه نتایج آن می باشد. قابل تذکر است که در این برنامه، ۲۴ تن از کارمندان تخنیکی لابراتوارهای حوزوی فوق الذکر رسماً اشتراک داشتند و این برنامه شامل بخش‌های تیوری و عملی نیز بود که در شعبات مورد نظر با موفقیت کامل به پایان رسید.



## د پکتیا ولایت لومړۍ او څلورمه ناحیه کې له یو شمېر درملتونونو او د خوراکي توکو پلورنځیو څخه نظارت ترسره شو.

یاد نظارت د پکتیا د عامې روغتیا ریاست مسؤلینو له لوري ترسره شو، چې پایله کې یې ۱۱ قلمه له نېټې تېر درمل او ۳۵ قلمه له نېټې تېر خوراکي توکي راټول او د له منځه وړلو په موخه مرکزي ګودام ته ولیږدول شول.

## Inspections Conducted at Several Pharmacies and Food Shops in the First and Fourth Districts of Paktia Province.

During the operations, officials from PPHD identified and confiscated 11 items of expired medicines and 35 items of expired food products. The violating items were immediately transferred to the central warehouse for proper disposal.



## د روږدو درملنې ملي برنامې ریاست له لوري د جنګلک روږدو درملنې روغتون په همکارۍ د نعمان سادات پوهنتون زده کړیالانو ته د نشه یي توکو څخه د مخنیوي په موخه د عامه پوهاوي غونډه تر سره شوه.

په همدې موخه جوړې شوې غونډه کې د جنګلک روږدو درملنې ۴۵۰ بستریز روغتون آمر، ډاکټر عبدالقادر دانش مل، روغتیایي کارکوونکو، د نعمان سادات پوهنتون مسؤلینو او زده کړیالانو ګډون کړون کړی و. جنګلک د روږدو درملنې روغتون آمر، ډاکټر عبدالقادر دانش مل د نعمان سادات پوهنتون د رهبرۍ هیئت څخه په مننې سره د نشه یي توکو د استعمال د مخنیوي پروګرامونو پر اهمیت ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، د نشه یي توکو کارونه یوه ناوړه عمل دی، چې د انسان د ژوند ټول اړخونه اغېزمنوي. ډاکټر دانش مل همدارنګه، د نشه یي توکو د مخنیوي پر ارزښت ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، د نشه یې توکو مخنیوی له درملنې غوره دی او د ټولنې ټول قشرونه باید د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه کې فعاله برخه واخلي. دغه راز، د نعمان سادات پوهنتون رئیس، ډاکټر منوچهر موحد د نشه یې توکو پر وړاندې د مبارزې او عامه پوهاوي پروګرامونو پر اهمیت ټینګار وکړ او ویې ویل: ځوانان او نوي نسل د دې خاورې او وطن شتمني ده، چې نشه یي توکي کولای شي دغه شتمني زیانمنه کړي. د یادونې وړ ده، چې د عامې روغتیا وزارت د روږدو درملنې برنامې ریاست له لوري په مرکز کابل کې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې او عامه پوهاوي پروګرامونه دوام لري، چې یاده لړۍ به ولایتونو ته هم وغځېږي.

## ننګرهار کې د خصوصي روغتیايي علومو انستیټیوټونو څخه نظارت ترسره شو.

یاد نظارت د ننګرهار عامې روغتیا رئیس، مولوي امین الله شریف په لارښوونه د ګډ پلاوي له لوري ترسره شو، چې په ترڅ کې یې د انستیټیوټونو فعالیتونه وارزول شول، ستونزې یې په نښه او د حل په موخه له اړوندو مسؤلینو سره شریکې شوې. دغه راز، اړوندو مسؤلینو ته د خدماتو لا ښه والي په موخه لازمې سپارښتنې شوې؛ ترڅو د محصلینو د عملي او نظري زده کړو کیفیت لوړ او د خدماتو برخه کې اغېزمنتیا زیاته شي.



## Monitoring Conducted at Private Health Sciences Institutes in Nangarhar.

This oversight was carried out by a joint delegation under the direction of Nangarhar's Director of Public Health, Mawlawi Aminullah Sharif, during which the activities of the institutes were evaluated, their challenges were identified, and shared with relevant officials for resolution. Furthermore, necessary recommendations were given to the concerned authorities to further improve services, in order to enhance the quality of both practical and theoretical education for students and to increase the effectiveness in the service sector.



## د بلخ ولایت سوختګي جراحي روغتون کې د لابراتوار نوې څانګه پرانیستل شوه.

د بلخ د عامې روغتیا ریاست مسؤلینو د دې ولایت د سوختګي جراحي روغتون، ۵۰ بستریز سرطاني روغتون او د همودیالیز څانګې لپاره یو نوی لابراتوار پرانیست او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د یاد لابراتوار پرانیستې مراسمو کې د بلخ حوزوي روغتون امر ډاکټر اشرف روان، د سوختګي جراحي روغتون امر ډاکټر فرید سراجي او د بېلابېلو برخو یو شمېر مسؤلینو ګډون درلود. یاد لابراتوار چې سوختګي جراحي روغتون کې فعال شو، نه یوازې د دې روغتون د ناروغانو په درملنه کې، بلکې د سرطاني روغتون او د همودیالیز څانګې د ناروغانو درملنه کې به هم ځانګړی رول ادا کړي.

## Laboratory Unit Opens at Burn Surgery Hospital in Balkh

Health officials from the Balkh Provincial Public Health Directorate (BPPHD) in Balkh province have inaugurated a new laboratory to support the Burn Surgery Hospital, the 50-bed Oncology Hospital, and the Hemodialysis Department. The ceremony was attended by Dr. Ashraf Rawan, Head of Balkh Regional Hospital; Dr. Farid Seraji, Head of the Burn Hospital, and other senior medical officials. The lab, based in the Burn Hospital, will enhance diagnostics for burn, cancer, and dialysis patients across all three facilities.



# د ناک روغتیایي ګټې!

ناک یوازې د خوند نه، بلکې د انسان د بدن لپاره ګڼې ګټې لري، چې د خپلو طبیعي توکو او ویټامینونو په وسیله د وجود هره برخه تازه او روغه ساتي:

۱. د وینې فشار ټیټوي:

ناک له پوټاشیمو ډکه مېوه ده، چې د زړه د ناروغیو او لوړ فشار په کنټرول کې ډېره مرسته کوي او د زړه حملې د خطر کچه راکموي.

۲. کولیسترول برابروي:

په ناک کې شته «پکتین» د بدن د ناوړه کولیسترول کچه راټیټوي، چې په دې توګه د رګونو د بندېدو او زړه د حملې مخه نیول کېږي.

۳. د شکر ناروغۍ مخنیوی کوي:

ناک د فایبر، فلیوینول او انټي اکسایډونو له کبله د انسولین د اغېزمن جذب سبب کېږي او د شکر د ناروغۍ د راپیدا کېدو مخه نیسي.

۴. قبضیت له منځه وړي:

ناک د فایبر بډایه سرچینه ده، فایبر د کولمو د پاکوالي، مرطوبوالي او د غایطه موادو د نرمېدو لامل ګرځي، چې په پایله کې قبضیت له منځه ځي

۵. تبه کموي:

د ناکو اوبه د سختې تبې پر مهال طبیعي درمل ګڼل کېږي، یو ګیلاس د ناک اوبه کولای شي د بدن د حرارت په راکمولو کې فوري اغېز وکړي.

٦. د هډوکو ځواک زیاتوي:

ناک کلسیم لري، چې د هډوکو په غښتلي کولو کې مرسته کوي او د عمر په تېرېدو سره د هډوکو د کمزورۍ او ماتېدو مخه نیسي.

۷. د ماشومانو د ودې لپاره ګټور دي :

ماشومان سالمې تغذیې ته ډېره اړتیا لري، د ناکو اوبه د ماشومانو د هډوکو او غاښونو په وده کې مهم رول لري.

۸. د بدن دفاعي سیستم پیاوړی کوي:

ناک د ویټامین (سي او اې) په لرلو د بدن دفاعي ځواک لوړوي او بدن د ویروسونو، بکتریااوو او ګڼو ناروغیو پر وړاندې مقاومت مومي.

روغتیا ته د ناک احتمالي زیانونه:

ناک یوه پخوانۍ، خوږه او ګټوره مېوه ده، چې د بدن د روغتیا لپاره په بې‌ساري توګه ارزښت لري، سره له دې چې ناک ډېرې ګټې لري، خو بې‌اعتداله خوړل یې ځینې ستونزې هم رامنځته کولی شي، لکه د هاضمې ګډوډي، د شکر ناروغانو لپاره احتمالي خطر او د الرژۍ امکان. له همدې امله د روغتیا پالانو له لوري سپارښتنه کېږي چې ناک د اعتدال په پام کې نیولو سره تل تازه وخوړل شي او ماشومانو ته په مناسبه اندازه ورکړل شي.

# د غزني ولایت د عامې روغتیا ریاست اړوند د روږدو درملنې ۵۰ بستریز روغتون کې د لابراتوار څانگه فعاله شوه.

یاده څانگه د عامې روغتیا ریاست رهبرۍ او روږدو درملنې روغتون د هڅو په پایله کې فعاله شوه، چې د ناروغانو لپاره په کې ټول اړین معاینات، لکه (HIV، HCV، HBs او Multi-Drug Tests) ترسره کېږي. د دې څانگې له فعالېدو سره، په تېرو دوو ورځـو کې ۵۰ تنه ناروغانو ته یاد معاینات ترسره شوې دي؛ همدارنگه هغه ناروغان چې په دغه روغتون کې بستر او د HBs او HCV ازموینې یې مثبتې وي، د لا ښې درملنې په موخه همدې لابراتوار ته ورپېژندل کېږي، چې دې کار د ناروغانو د وخت او لگښت په سپما کې مهم رول ادا کړی دی.



## بخش لابرتوار شفاخانه ۵۰ بستر تداوی معتادین ریاست صحت‌عامه ولایت غزنی به فعالیت آغاز کرد

این بخش، خوشبختانه با تلاش های رهبری ریاست صحت‌عامه و شفاخانه تداوی معتادین این ولایت فعال شده است. که اکنون معاینات لازم برای بیماران از جمله: HIV، HCV، HBs، Multi-Drug Tests در داخل شفاخـانه اجـرا می شـوند. با فـعال شـدن این بخش،معاینات مختلف فوق الذکر، در دو روز گذشته روی ۵۰ بیمار در این شفاخانه اجرا شده است. همچنان بیماران HCV , HBs مثبت داخل بستر در شفاخانه برای تداوی بهتر به این لابرتوار معرفی خواهند شد که این امر نقش مهمی در صرفه‌جویی وقت و هزینه برای بیماران خواهد داشت.

## The laboratory department at the 50-Bed Drug Addiction Treatment Hospital in Ghazni has officially commenced operations under the Provincial Public Health Directorate.

Established through the efforts of the Public Health Directorate and hospital leadership, the lab now conducts essential diagnostic tests — including HIV, HCV, HBs, and Multi-Drug Tests — directly on-site. In the past two days alone, the lab has tested 50 patients. HCV and HBs-positive inpatients will also be referred here for enhanced treatment monitoring, helping reduce both time and costs for patients.

## د عامې روغتیا وزارت د روغتیا لوړونې (ارتقای صحت) امر، ډاکټر عبدالجبار حیدر، د ننګرهار عامې روغتیا رئیس، مولوي امین الله شریف سره لیدنه وکړه!

په دې لیدنه کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیا لوړونې امر، ډاکټر عبدالجبار حیدر د ساري ناروغیو د اوټېریکونو او پېښو مخنیوي او کچې راکمولو په موخه د حفظ الصحې مراعتول اړین وبلل او په دې برخه کې یې د عامه پوهاوي پروګرامونو پر دوام ټینګار وکړ؛ ترڅو د خلکو روغتیا خوندي شي. د ننګرهار عامې روغتیا رئیس وویل، د ساري ناروغیو مخنیوي په موخه به خپلو هڅو ته دوام ورکړي او زیاته یې کړه، پېښو ته د پر وخت رسېدنې او د ساري ناروغیو د کنټرول لپاره د عامې روغتیا وزات همکاري اړینه ده، چې د ناروغانو پر وخت درملنه او د ناروغیو د لېږد مخه ونیول شي.

## داکترعبدالجبار حیدر آمر ارتقاء صحت وزارت صحت‌عامه، با مولوی امین الله شریف رئیس صحت‌عامه ولایت ننگرهار دیدار کرد!

در این دیدار، آمر ارتقاء صحت وزارت صحت‌عامه، رعایت اصول حفظ الصحه را برای پیشگیری و کاهش میزان شیوع و بروز بیماری‌های ساری ضروری دانست و بر تداوم برنامه‌های آگاهی‌دهی عامه در این زمینه تأکید کرد تا صحت مردم حفظ گردد. رئیس صحت‌عامه ننگرهار گفت: « که تلاش‌های‌شان را در راستای جلوگیری از بیماری‌های ساری ادامه خواهند داد و افزود، که همکاری وزارت صحت‌عامه برای رسیده‌گی به‌موقع به موارد بیماری و کنترول آن‌ها ضروری است تا تداوی بیماران به‌موقع صورت گیرد و از گسترش بیماری‌ها جلوگیری گردد.

## Dr. Abdul Jabbar Haidar, Head of Health Promotion at the Ministry of Public Health, met with Mawlawi Aminullah Sharif, Director of Public Health in Nangarhar Province.

During the meeting, Dr. Haidar underscored the critical role of hygiene in preventing and mitigating outbreaks of infectious diseases. He also highlighted the need to sustain public awareness campaigns as a vital component of disease prevention. Mawlawi Sharif affirmed Nangarhar's continued efforts to curb the spread of infectious diseases. He stressed that timely intervention and close collaboration with the Ministry are essential to ensure early treatment and contain transmission.



## د عامې روغتیا وزارت د عامه تغذیې رئیس، ډاکټر حکمت الله معصومي په مشرۍ د تغذیې د بېړنیو حالاتو مسؤل، ډاکتر ذبیح الله شمس او مل پلاوي د وزارت په لاربښوونه د کونړ ولایت په زلزله ځپلو سیمو او ایجاد شویو روغتیایي کمپونو او مرکزونو کې د تغذیې بېړنیو خدماتو څخه لیدنه ترسره کړه.

د دې لیدنې موخه د هېواد په روغتیایي مرکزونو کې د تغذیې خدماتو کیفیت لوړل او هېوادوالو ته په معیاري توګه د تغذیې خدماتو وړاندې کول دي، چې ترڅ کې یې د عامه تغذیې رئیس په لیدل شویو روغتیایي مرکزونو کې د تغذیې خدماتو د پیاوړتیا لپاره د تطبیق کوونکو مؤسسو فعالیتونه وستایل او اړوندو مسؤلینو ته یې د لا ښه خدماتو سپارښتنه وکړه. د یادونې وړ ده، چې کونړ ولایت کې د زلزله ځپلو لپاره د عامه تغذیې ریاست له لوري په لومړي ځل د هغو ماشومانو لپاره چې عمرونه یې له شپږ میاشتو څخه کم وي او میندې یې له لاسه ورکړې وي، RUIF شیدې توضیع شوي دي او د BSFP پروګرام له لارې د تغذیې موادو ویش په منظم ډول لا هم دوام لري.



## داکتر حکمت الله معصومی رئیس تغذیه عامه وزارت صحت‌عامه و هیآت همراهش، از خدمات عاجل تغذیه در کمپ‌ها و مراکز صحی ایجاد شده در مناطق زلزله‌زده ولایت کنر، دیدار نمودند.

هدف از این دیدار، ارتقاء کیفیت خدمات تغذیه در مراکز صحی کشور و ارائه خدمات معیاری تغذیه برای شهروندان می باشد. در جریان این دیدار، رئیس تغذیه عامه فعالیت‌های موسسات تطبیق‌کننده را در زمینهٔ تقویت خدمات تغذیه در مراکز صحی مورد تقدیر قرار داده و به مسوولان مربوطه برای ارائهٔ خدمات بهتر، هدایات لازم داد. قابل یادآوری است، که برای نخستین بار ریاست تغذیه عامه برای اطفال زلزله زده زیرسن شش ماه که مادران شان را در ولایت کنر از دست داده اند شیرRUIF توزیع نموده و توزیع مواد غذایی از طریق برنامه BSFP به صورت منظم ادامه دارد.

## د کندهار ولایت میرویس سیمه ییز روغتون د ټراینرانو ۴۰ خالي بستونو لپاره ازموینه واخیستل شوه.

یاده ازموینه چې د ازموینو ملي ادارې له لوري واخیستل شوه، پرانیست غونډه کې یې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني او مل پلاوي شتون درلود. د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ګډونوالو ته د یادې ازموینې په اړه هر اړخیز معلومات ورکړل، هغوی یې روغتیا برخه کې خدمت ته وهڅول او ویې ویل: «دا ازموینه چې د عامې روغتیا وزارت له لوري د ازموینو په ملي ادارې په همکارۍ اخیستل کېږي، ټولو ګډونوالو ته یې د بشپړ شفافیت ډاډ ورکوو او په ازموینه کې ورته د بریالیتوب هیله څرګندوو».



## امتحان ۴۰ بست خالی ترینرها، در شفاخانه میرویس ولایت قندهار برگزار شد.

این امتحان از طرف اداره ملی امتحانات اخذ گردید و در مراسم افتتاح آن، محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه و هیئآت همراهش اشتراک داشتند. محترم معین‌عرضه خدمات صحی، معلومات همه‌جانبه را در مورد این امتحان به اشتراک کننده گان ارائه نمود و آنان را در راه خدمت گذاری در بخش صحت تشویق کرده گفت: «این امتحان که از سوی وزارت صحت‌عامه با همکاری اداره ملی امتحانات .«برگزار می شود، برای همه اشتراک‌کننده گان شفافیت کامل آن را تضمین می‌کنیم و برای‌شان در این رقابت آرزوی موفقیت داریم.

## Mirwais Regional Hospital in Kandahar Province conducted an examination for 40 vacant trainer positions.

The exam, organized by the National Examinations Authority, was inaugurated by Mawlawi Abdul Wali Haqqani, Deputy Minister for Health Services at the Ministry of Public Health, along with his delegation. The Deputy Minister provided participants with detailed information about the exam, encouraged them to serve in the health sector, and stated: "This exam, conducted by the Ministry of Public Health in collaboration with the National Examinations Authority, will be carried out with complete transparency. We wish all participants success."

## داکتر کریم‌الله حلیمی، رئیس نظارت وزارت صحت‌عامه، از مراکز صحی خصوصی در ناحیه ششم شهر کابل نظارت کرد.



این نظارت که به رهبری داکتر کریم‌الله حلیمی و از سوی یک هیأت مشترک آغاز شده بود، دربرگیرندهٔ بازدید از مراکز صحی خصوصی مربوط ناحیه ششم شهر کابل می‌باشد. در جریان این نظارت، به مسوولانمراکز صحی هدایت‌های لازم داده شد تا مراکز صحی‌شان را مطابق با مقرره شماره ۱۰۸۴ سکتور خصوصی عیار ساخته و خدمات صحی معیاری را به شهروندان کشور ارائه نمایند. قابل یادآوری است، که روند یادشده نظارت ادامه خواهد داشت تا تمام مراکز صحی خصوصی مطابق با مقرره ۱۰۸۴ .فعالیت نموده و به ارائه خدمات‌شان تداوم بخشند

# هېواد کې د کوچنیانو او تنکیو ځوانانو د رواني روغتیايي خدمتونو په موخه د سروې موندنو د خپراوي ورکشاپ تر سره شو.

د دې ورکشاپ پرانیست غونډه کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیايي پراختیا او پالیسۍ مرستیال ښاغلي ډاکټر محمد حسن غیاثي، د مقام د دفتر لوی رئیس شیخ محمد طاهر حلیم، د وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو، روغتیا پالانو، د روغتیا نړیوال سازمان، یونیسیف سازمان او رسنیو استازو ګډون کړی و. د روغتیايي پراختیا او پالیسۍ مرستیال ښاغلي ډاکټر محمد حسن غیاثي د څلورو لسیزو جګړې، کډوالي، د کورنیو بې ځایه کېدل، بشري بحرانونه، سیاسي بې ثباتي، اقتصادي ستونزې او فقر د رواني روغتیا د زیانمنېدو مهم لاملونه وبلل او ویې ویل:( د دې لپاره چې په هېواد کې رواني ناروغانو ته غوره خدمتونه وړاندې شي؛ نو باید د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د رواني روغتیا ملي تګلاره جوړه شي، د افغانستان د روغتیايي سیستم لپاره دایمي مالي منابع برابرې شي، د روغتیايي کارکوونکو ظرفیتونه پیاوړي شي، د ماشومانو او تنکیو ځوانانو رواني روغتیا د روغتیايي او تعلیمي پالیسیو برخه وګرځي، ځانګړي تخصصي مرکزونه جوړ شي او دا خدمتونه د لومړنیو روغتیايي مرکزونو، د مور او ماشوم خدماتو او ښوونځیو سره یوځای شي. همداراز ښاغلي مرستیال زیاته کړه، د عامې روغتیا وزارت ژمن دی چې د افغانستان ټولو اوسېدونکو، په ځانګړې توګه ماشومانو او تنکیو ځوانان ته د رواني روغتیايي خدمتونو د لاسرسي زمینه برابره کړي، چې دا چاره به د رواني روغتیا د خدمتونو د لومړنیو او ثانوي مرکزونو سره د یوځای کولو، د خدماتو د کیفیت لوړولو، او د بېلا بېلو سکتورونو په ځانګړې توګه د پوهنې او کار او ټولنیزو چارو وزارتونو د ګډې همکارۍ له لارې عملي شي او هېڅوک باید د فقر، جغرافیايي محدودیتونو او نورو لاملونو له امله له دغو خدمتونو بې برخې نه شي. دغه راز، د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس، شیخ محمد طاهر حلیم د اسلام مبارک دین له نظره د رواني روغتیا په ارزښت وینا تر سره او کورنی تاوتریخوالی، بې ثباتي، ناروغۍ، د کیمیاوي موادو او نشه یې توکو کارول یې د رواني روغتیا د زیانمنېدو مهم لاملونه یاد کړل. په دې غونډه کې همداراز، د عامې روغتیا وزارت د رواني روغتیا مسؤل ډاکتر وحیدالله افغان، د هیلت نیټ مؤسسې د څېړنې برخې مسؤل ډاکټر مرتضی هوفیاني ، د یونیسیف سازمان او د روغتیا نړیوال سازمان استازي ډاکټر دېلارا مینول هم د رواني روغتیا د ارزښت او اهمیت په اړه هر اړخیزې ویناوې تر سره او زیاته یې کړه، هڅه کوو چې په یو شمېر ولایتونو لکه بدخشان، بامیان، فراه، ننګرهار او کندهار کې د رواني روغتیا ځانګړې ۲۰ بستریز مرکزونه جوړ کړو، چې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د رواني روغتیا برخه به هم په کې شامله وي.






## A workshop Held to Present the Findings of a Survey on Mental Health Services for Children and Adolescents in the Country.

The opening ceremony of the workshop was attended by Dr. Mohammad Hasan Ghiasy, Deputy Minister for Health Promotion and Policy at the Ministry of Public Health; Sheikh Mohammad Tahir Halim; the Chief of Staff; several central directors of the ministry; health workers; representatives from the World Health Organization (WHO) and UNICEF; and members of the media. Dr. Mohammad Hasan Ghiasy identified four decades of war, migration, family displacement, humanitarian crises, political instability, economic challenges, and poverty as the main factors contributing to the deterioration of mental health. He stated: "To provide better services for people with mental health conditions in the country, a national mental health policy for children and adolescents must be developed. Permanent financial resources should be allocated to the Afghan health system, human resource capacities must be strengthened, and child and adolescent mental health should be integrated into health and education policies. Specialized centers need to be established, and these services should be linked with primary health care centers, maternal and child health services, and schools." The Deputy Minister also emphasized that the Ministry of Public Health is committed to ensuring access to mental health services for all residents of Afghanistan, particularly children and adolescents. This will be achieved through the integration of mental health services into primary and secondary health care centers, improvement of service quality, and coordinated cooperation among various sectors, especially the Ministries of Education and Labor and Social Affairs. He stressed that no one should be denied these services due to poverty, geographical barriers, or other reasons. Similarly, Sheikh Mohammad Tahir Halim delivered a speech on the importance of mental health from an Islamic perspective, citing domestic violence, instability, illness, and the use of chemicals and drugs as major factors contributing to mental health disorders. Also at the ceremony, Dr. Wahidullah Afghan, Head of Mental Health at the Ministry of Public Health; Dr. Murtaza Hofiani, Head of Research at HealthNet; and Dr. De Lara Manuel, Representative of the World Health Organization, delivered comprehensive speeches on the value and importance of mental health. They added: "We are working to establish 20-bed specialized mental health centers in several provinces, including Badakhshan, Bamyan, Farah, Nangarhar, and Kandahar, which will also feature dedicated mental health units for children and adolescents."



## د شکردرې ولسوالۍ د عمومي روغتون جوړولو د آفر پرانیستې پروسه ترسره شوه.

یاده پروسه د عامې روغتیا وزارت د پلان او پالیسۍ لوی رئیس ډاکټر سید رسول منګل، د تدارکاتو، اداري، مالي او حسابي ریاستونو او د ۱۳ ودانیزو شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه. د عامې روغتیا وزارت د پلان او پالیسۍ لوی رئیس وویل: «دغه پروسه په بشپړه توګه له شفافیت څخه برخمنه ده او موږ له هغه شرکت څخه چې بریالی کېږي، تمه لرو چې کارونه په دقیق او ټاکلي وخت د عامې روغتیا وزارت له شرطونو سره سم ترسره کړي؛ ځکه چې دا د عامه ګټو پروژه ده.» بل لور، د ودانیزو شرکتونو استازو ژمنه وکړه، که په دې پروسه کې بریالي شي، د عامې روغتیا وزارت له معیارونو سره سم به عمل ترسره کړي. د یادونې وړ ده د عامې روغتیا وزارت د هیواد په ۳۱۸ ولسوالیو کې د عمومي روغتونو جوړولو پلان لري چې د یادې پروسې تدارکاتي چارې جریان لري.

## Bid Opening Held for GH Construction in Shakar Dara District.

The bid opening for building a General Hospital (GH) in Shakar Dara District took place with the participation of Dr. Sayed Rasool Mangal, Director General of Planning and Policy at the Ministry of Public Health, along with officials from procurement, administration, finance, and accounting departments, and representatives from 13 construction companies. Dr. Mangal stated that the process was fully transparent. He added, "We expect the winning company to complete the work on time and according to the Ministry's standards, as this is an important public service project." Company representatives also pledged to follow the Ministry's guidelines if selected for the project. Notably, the Ministry of Public Health plans to build general hospitals in 318 districts across the country, and the procurement process for this initiative is currently underway.

## پروسه آفرگشایی ساخت شفاخانه عمومی در ولسوالی شکرده ولایت کابل برگزار شد.

این پروسه با حضور داکتر سید رسول منگل رییس عمومی پالیسی وپلان وزارت صحت عامه، نماینده گان ریاست تدارکات، مالی و حسابی، ریاست اداری و نماینده گان ۱۳ شرکت ساختمانی برگزار گردید. رییس عمومی پالیسی وپلان، در نشستی که به این مناسبت برگزار شد، گفت: «این پروسه از شفافیت کامل برخوردار بوده و ما از شرکتی که برنده می‌شود خواهان کار بهتر و دقیق به وقت و زمان آن مطابق شرایط وزارت صحت‌عامه را خواهانیم، چون این پروژه عام المنفعه می‌باشد.» از سوی‌هم نماینده گان شرکت های ساختمانی، وعده سپردند که در صورت برنده شدن در پروسه آفر گشایی، مطابق معیارات وزارت صحت‌عامه عمل خواهند کرد.

## د ۱.۱.۱ د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د ایران له سفیر، ښاغلي علي رضا بیکدلي سره لیدنه ترسره کړه.

په دې لیدنه کې چې د بامیان ولایت والي ملا عبیدالله سرحدي، د بامیانو ولایت قومي مخورو او یو شمېر نورو مسؤولینو هم شتون درلود، د افغان روغتیایي کارکوونکو پر ظرفیت لوړونې، عمومي روغتونونو ته د طبي تجهیزاتو برابرولو، د کابل افشار او بامیان ولایت کې جوړېدونکو روغتونونو د چارو پر څرنګوالي، سرطان او ځینو نورو مهمو طبي برخو کې د روغتیایي کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په اړه بحث او خبرې ترسره شوې. د عامې روغتیا ښاغلي وزیر، د روغتیایي کارکوونکو ظرفیت لوړونې، طبي تجهیزاتو برابرولو، افغانستان ته د باکیفیته درملو او عصري طبي تجهیزاتو را واردولو، د هواد په داخل کې د واکسین پر تولید، د کابل او بامیان ولایت د جوړېدونکو روغتونونو پر څرنګوالي مفصلې خبرې وکړې. بل لور، د ایران هېواد سفیر ښاغلي بیکدلي روغتیا برخه کې د همکارۍ ډاډ څرګند او د دوامداره همکارۍ ژمنه وکړه.



## محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت عامه امارت اسلامی افغانستان، در دفتر کاری‌اش با، محترم علی رضا بیکدلی، سفیر ایران برای افغانستان دیدار نمود.

در این دیدار که ملا عبیدالله سرحدی والی بامیان، بزرگان قومی بامیان و شماری از مسوولان دیگر نیز حضور داشتند، در مورد ارتقاء ظرفیت کارکنان صحی افغان، تجهیزات طبی برای شفاخانه‌های عمومی، روند ساخت شفاخانه‌ها در افشار کابل و ولایت بامیان، و ارتقاء ظرفیت کارکنان صحی در بخش سرطان و سایر بخش‌های مهم طبی، بحث و تبادل نظر صورت گرفت. در این دیدار محترم وزیر صحت عامه در مورد ارتقاء ظرفیت کارکنان صحی، فراهم‌سازی تجهیزات طبی، واردات دواهای باکیفیت و تجهیزات پیشرفته طبی به افغانستان، تولید واکسین در داخل کشور، و جزئیات ساخت شفاخانه‌های کابل و بامیان صحبت مفصل نمود.

از سوی هم، آقای بیکدلی، سفیر ایران، بر همکاری دوامدار در بخش صحت تأکید کرد و اطمینان همکاری بیشتر را داد.

## Afghanistan's Minister of Public Health Meets Iranian Ambassador to Discuss Health Cooperation.

The Minister of Public Health of Afghanistan, Mawlawi Noor Jalal Jalali, met with Iranian Ambassador Ali Reza Bigdeli in the Minister's office. The meeting, attended by the Governor of Bamiyan Province, Mullah Obaidullah Sarhadi, local tribal elders, and other officials, focused on strengthening Afghan health workers' capacity, providing medical equipment to hospitals, and reviewing the development of hospitals in Kabul's Afshar area and Bamiyan Province. Discussions also included enhancing skills in oncology and other key medical fields. Minister Jalali emphasized capacity-building, supplying medical equipment, importing quality medicines and modern devices, domestic vaccine production, and operational plans for the new hospitals. Ambassador Bigdeli assured continued cooperation in the health sector and reaffirmed Iran's commitment to bilateral collaboration.

# د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني هلمند ولايت ته د سفر په ترڅ کې د روغتيا نړيوال سازمان، يونيسف، ايمرجنسي ادارو او تطبيقونکو مؤسسو له استازو سره ناسته ترسره کړه.

په دې ناسته کې د واکسين د پوښښ کچې ښه والي او اغېزمنتيا، د باکيفيته او معياري خدماتو وړاندې کولو، د همغږۍ لا پياوړتيا او روغتيايي خدمتونو ته د خلکو لاسرسي زياتوالي په اړه بحث او خبرې ترسره شوې. د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال د واکسيناسيون کمپاينونو د لا مؤثريت او روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړولو لپاره لا زياته همغږي او ګډ کار اړين وباله او ويې ويل، عامې روغتيا وزارت ژمن دی، چې د هېواد ټولو برخو ته عادلانه روغتيايي خدمات ورسوي.



## محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، در جریان سفرش به ولایت هلمند، نشستی رابا نماینده‌گان سازمان صحی جهان، یونیسف، اداره ایمرجنسی و مؤسسات تطبیق‌کننده برگزار کرد.

در این نشست، در مورد بهبود سطح پوشش و مؤثریت واکسین، ارائه خدمات با کیفیت و معیاری، تقویت بیشتر هماهنگی و افزایش دسترسی مردم به خدمات صحی بحث و تبادل نظر صورت گرفت. محترم معین عرضه خدمات صحی، بر هماهنگی و کار مشترک بیشتر به خاطر مؤثریت بیشتر کمپاین‌های واکسیناسیون و ارتقاء کیفیت خدمات صحی تأکید نموده، گفت: « که وزارت صحت‌عامه متعهد است تا خدمات صحی عادلانه را به تمام نقاط کشور برساند.

## The Deputy Minister of Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, during his official trip to Helmand Province, met representatives from World Health Organization, UNICEF, emergency response agencies, and implementing partners.

The meeting focused on coverage of vaccination and its effectiveness and impact, quality and standard health services provision, and strengthening coordination, and access to health services by the people. His Excellency, the Deputy Minister of Health Services, Haqqani, emphasized the importance of further improving vaccination campaigns and bolstering health service quality through coordination and joint efforts, adding the Ministry of Public Health is committed to providing equitable health services to all parts of the country.



## د ۱.۱.۱ د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ په وړانديز او د رياست الوزراء عالي مقام د منظورۍ په اساس ډاکتر نقيب الله فاتح د هلمند عامې روغتيا د نوي رئيس په توګه وټاکل شو.

نوموړی د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني له لوري، چې د ياد ولايت د بېلابېلو ادارو مسؤلينو هم شتون درلود، د عامې روغتيا رياست اړوند مسؤلينو ته ورو پېژندل شو. د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني تغير او تبديل د اسلامي نظام اصل وباله او نوي رئيس ته يې په چارو کې د برياليتوب هيله څرګنده کړه.

## Dr. Naqeebullah Fateh Appointed as the New Director of Helmand Public Health Directorate.

Pursuant to the recommendation of the senior leadership of the Ministry of Public Health and ratified by the Supreme Council of Ministers, Dr. Naqeebullah Fateh has been designated as the new Director of Public Health for Helmand Province. He was formally acquainted with the officials of the provincial Public Health Directorate by Mawlawi Abdul Wali Haqqani, Deputy Minister for Health Services, in the presence of representatives from diverse provincial administrations. Deputy Minister Haqqani characterized the leadership transition as a fundamental principle of the Islamic governance framework and conveyed his best wishes for the new director's successful stewardship of the province's public health affairs.





## د لغمان ولايت علينګار ولسوالۍ د عمومي روغتون جوړولو د آفر پرانيستې پروسه ترسره شوه.

ياده پروسه د عامې روغتيا وزارت د مقام د دفتر لوی رئيس الحاج شيخ محمد طاهر حليم، د تداركاتو، اداري، مالي او حسابي رياستونو او د ۱۲ ودانيزو شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه. د عامې روغتيا وزارت د مقام د دفتر لوی رئيس، وويل: «دغه پروسه په بشپړه توګه له شفافيت څخه برخمنه ده او موږ له هغه شرکت څخه چې بريالی کېږي، تمه لرو چې کارونه په پوره اخلاص، صداقت او دقيق او ټاکلي وخت د عامې روغتيا وزارت له شرطونو سره سم ترسره کړي؛ ځکه چې دا د عامه ګټو پروژه ده.» بل لور، د ودانيزو شرکتونو استازو ژمنه وکړه، که په دې پروسه کې بريالي شي، د عامې روغتيا وزارت له معيارونو سره سم به عمل ترسره کړي. د يادونې وړ ده د عامې روغتيا وزارت د هېواد په ۳۱۸ ولسواليو کې د عمومي روغتونو جوړولو پلان لري چې د يادې پروسې تداركاتي چارې دوام لري.